




# Orientation to Ontario

1-855-626-0002
https://settlement.org/o2o

## د اونټاریو د موټر چلولو جواز (لایسنس)

په اونټاریو کې د موټر چلولو لهپاره تاسو باید د اونټاریو د موټر چلولو معتبر جواز ولرئ. اونټاریو ته تر رارسېدو وروسته د لومړیو 60 ورځو لپاره تاسو کولی شئ هغه جواز وکاروئ چې په بل هېواد کې مو اخیستی وي، له هغې وروسته تاسو باید خپل د اونټاریو جواز ولرئ. نارینه او ښځینه کولی شي د لایسنس د اخیستو غوښتنه وکړي او دوی باید:

- 16 کلن وي.

لیکلي ازموینه ورکړي، چې په څو ژبو شته.

- د سترګو د لید یا نظر ازموینه او د موټر چلولو دوه عملي ازموینې ورکړي.

### د موټر چلولو د جوازونو بېلابېلې درجې یا ټولګي

- G کلاس یا درجه - موټر، وینونه، وړې لارۍ.
- M کلاس یا درجه - موټرسایکلونه.
- سوداګریز کلاس یا درجه (A to E) - لویې لارۍ او بسونه.


## د د اونټاریو د فراغت جواز سیستم

مخکې له دې چې تاسو خپل بشپړ جواز ترلاسه کړئ تاسو باید د شاوخوا دوو کلونو لهپاره ازماییښتي جواز ولرئ.

- G1 نوي چلوونکي، چې یوازې له بل لایسنس لرونکي ډرایور سره موټر چلولی شي. تاسو کولی شئ د 12 میاشتو وروسته خپل G2 ازموینه ورکړئ، او که تاسو د موټر چلولو د خوندیتوب کورس واخلئ، نو تاسو کولی شئ یوازې اتې میاشتې وروسته G2 ازموینه ورکړئ.
- G2 امتحاني ډرایوران چې د ځینې محدودیتونو سره موټر چلوي شي. د G2 چلوونکي باید د G سند لرونکي موټروانان باید هغه وخت د G سند اخیستو ازموینه ورکړي کله چې پخپله د موټر چلولو تمرین وکړي.
- G بشپړ لایسنس یا جواز لرونکی موټروان هیڅ محدودیت نه لري او اړ نه دی چې نورې ازموینې ورکړي.

که تاسو د بل هېواد څخه د موټر چلولو باوري جواز لرئ، تاسو ممکن وکولی شئ دا د اونټاریو په بشپړ یا G جواز بدل کړئ یا د G1 یا G2 له پړاوونو تېر شئ.

- د بهرني لایسنس د بدلولو یا د بهرنیو لایسنسونو دپروګرام په اړه نور معلومات په drivetest.ca تر لاسه کړئ.



### اړین سندونه

- د پېژندنې یو سند (ID) ولرئ چې ستاسو قانوني نوم، د زېږېدو نېټه او لاسلیک په کې وي.
- ستاسو د پېژندنې سند باید اصلی وي، نه کاپي او دا سند باید په انګلیسي یا فرانسوي ژبه وي.
- د منل کېدونکو سندونو په اړه نور معلومات د drivetest.ca پاڼې په DriveTest برخه کې تر لاسه کړئ.

## د موټر چلولو د ازموینې مرکز

د د لایسنس یا موټر چلولو جواز د غوښتلو لهپاره له اړینو سندونو سره د موټر چلولو د ازموینې مرکز DriveTest ته لاړ شئ.

د G1 جواز اخیستو لهپاره تاسو باید لاندې کارونه وکړئ:



Funded by / Financé par :

Ontario

Immigration, Refugees and Citizenship Canada

Immigration, Réfugiés et Citoyenneté Canada




- په لیکلي بڼه د پوهې ازموینه ورکړئ – په دې برخه کې د وخت محدودیت نشته او په شلو ژبو کې د ازموینې ورکولو اسانتیا شته، یا یو وړ او مناسب ژباړن درسره راوستلی شئ، چې له تاسو سره مرسته وکړي.
- که تاسو په لیکنی ازموینه کی کامیاب شئ، له تاسو به د سترګو د لید یا نظر ازموینه واخیستل شي.
- که تاسو د سترګو د لید یا نظر په ازموینه کې بریالي شئ، نو تاسو به خپل عکس واخلئ.
- تاسو به سمدلاسه لنډمهاله G1 جواز ترلاسه کړئ او ستاسو د موټر چلوونې جواز عکس کارت به تاسو ته واستول شي.
- که تاسو په ازموینه کې ناکام شئ، نو تاسو باید فیس ورکړئ او بیا ازموینه ورکړئ.



د G2 یا G جواز ترلاسه کولو لپاره تاسو باید د DriveTest مرکز ویبپاڼه کې د سړک ازموینه وټاکئ.

- د بریښنالیک تصدیق چاپ کړئ او د خپل ID کارت سره یې د موټر چلولو د ازموینې یا DriveTest مرکز ته راوړئ.
- موټر راولئ. د DriveTest مرکز د ازموینې لهپاره وسایط نه چمتو کوي. تاسو کولی شئ یو موټر په پور واخلئ یا د خپل موټر چلولو له ښوونځي څخه یې کرایه کړئ.

- که تاسو د سړک په ازموینه کې ناکامه شئ، تاسو باید بیا ازموینه ورکړئ.
- وروسته له دې چې تاسو د G2 ازموینه په کامیابی ترسره کړه تاسو باید تر G ازموینې پورې 12 میاشتې انتظار وکړئ.
- وروسته له دې چې تاسو د سړک ازموینه په کامیابی ترسره کړئ، تاسو به سمدلاسه لنډمهاله جواز ترلاسه کړئ او ستاسو د موټروانی جواز کارت به تاسو ته واستول شي.



## د موټر چلولو د ازموینې لهپاره ستاسو چمتو کول

د درایورۍ رسمي MTO کتاب ولولئ، چې د پیرلو او انلاین لوستلو لهپاره د لاسرسي وړ دی. د موټر چلولو ښوونځي په ټولګي کې نظري زده کړې او د موټر چلولو عملي درسونه وړاندې کوي. که تاسو د موټر چلولو کورس واخلئ، تاسو ممکن په ټیټه بیه بیمه ترلاسه کړئ.

